# د درغليو موندل، مخنيو کول او راپور ورکول

## د درغلۍ لارښود کتاب

### د وروستيو کډوالیو او مهاجرتونو لپاره

فدرال د سوداګرۍ کميسيون (FTC) يوه دولتي اداره ده چې خلک له دوکو او درغليو څخه خوندي کوي.

د درغلۍ ځينې خبرداری ورکوونکې نښې نښانې دلته دي. که چېرې تاسو له دې نښو څخه يوه وليدله، ودرېږئ. په دې اړه خبرې وکړئ.

که تاسو دوکه شوئ يا مو کومه درغلي وليدله، 877-382-4357 شمېرې ته زنګ ووهئ او د نورو ژبو لپاره د 3 تڼۍ کېکاږئ او بيا د زياتو ژبو لپاره د 0 تڼۍ کېکاږئ — يا ReportFraud.ftc.gov ته مراجعه وکړئ.

## د درغلۍ خبرداری ورکوونکې نښې نښانې

**ایا تاسو ته کوم چا د دندې ژمنه درکړې ده - دوی ته مو پیسې ورکړې دي؟**

هېڅکله هغه چا ته پیسې مه ورکوئ چې تاسو ته یې د دندې، د دندې ترلاسه کولو لپاره تصدیق پاڼه یا دندې ته د پټ لاسرسي ژمنه کړې وي. دا دوکې دي.

**ایا کوم چا ویلي دي چې هغه د کومې دولتي اداري غړی دی او تاسو یې ګواښلي یاست یا یې د پیسو غوښتنه درڅخه کړې ده؟**

حکومت د دې لپاره له تاسو سره اړیکه نه نیسي چې تاسو وګواښي یا پیسې درڅخه وغواړي.

**ایا کوم چا درته ویلي دي چې کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي تر څو د تنوع ویزې په پچه اچونه کې د ګرین کارت ګټونکي شئ؟**

نوم لیکنه وړیا ده او ګټونکي په تصادفي توګه ټاکل کېږي. هېڅوک نشي کولای ستاسو د ګټونکي کېدو چانس لوړ کړي.

**ایا د رسمي اسنادو دفتر له تاسو سره ستاسو د کډوالۍ په حالت کې د مرستې وړاندیز کړی دی؟**

که تاسو د خپل کډوالۍ د وضعیت په اړه حقوقي سلا مشورې ته اړتیا لرئ، یوه وکیل یا یوه معتبر استازي ته مراجعه وکړئ. د رسمي اسنادو دفتر ته نه.

**ایا تاسو کوم زنګ، بریښنالیک، لیکلی پیغام یا د ټولنیزو شبکو له لارې پیغم ترلاسه کړی دی چې وایي تاسو د کوم څه ګټونکي شوي یاست؟ پرته له دې چې کوم لګښت موجود وي؟**

د ډالۍ لپاره پیسې مه ورکوئ. دا دوکه ده. تاسو به خپلې پیسې له لاسه ورکړئ.

**ایا له تاسو څخه کوم چا غوښتنه کړې ده چې د ډالۍ کارت، د پیسو د لېږد یوې کمپنۍ لکه Western Union یا MoneyGram یا کریپټو کرنسۍ له لارې پیسې ور واستوئ؟**

یوازې غلوونکي غوښتنه کوي تر  په دې ډول تادیه وکړئ. دا کار مه کوئ.

**ایا تاسو له کوم چا څخه چک ترلاسه کړی دی چې بیا یې له تاسو څخه نیمې پیسې بېرته غوښتې وي؟**

هېڅکله ته د چک په بدل کې پیسې مه ورکوئ. جعلي چک کېدای شي سم معلوم شي او بانک پرې تېر وځي. تاسو به اړ شئ چې نیمې پیسې بېرته ادا کړئ.

**ایا تاسو کوم زنګ، برېښنالیک، لیکلی پیغام یا د ټولنیزو شبکو له لارې پیغام ترلاسه کړی دی چې ستاسو د کرېډټ کارت، بانکي حساب یا ټولنیز خوندیتوب شمېره یې غوښتې وي؟**

دغه معلومات هېڅکله چا ته د ټلیفون، برېښنالیک، لیکلي پیغام یا ټولنیزو شبکو له لارې مه ورکوئ.

## خپل ځان او معلومات مو خوندي وساتئ

- خپل مهم اسناد یا ID کارتونه له ځان سره مه ګرځوئ.
- په برېښنالیکونو، لیکلو پیغامونو یا د ټولنیزو شبکو په مسېجونو کې پر لېنکونو کلېک مه کوئ مګر دا چې تاسو په ډاډ سره پوهېږي چې هغه څه دي.
- د زنګ وهونکي پر ID باور مه کوئ. دوکه کوونکي کولای شي هر ډول نوم یا شمېره جوړه کړي چې ستاسو د زنګ وهونکي پر ID را څرګنده شي.
- هغه چا ته پیسې مه ور استوئ چې تاسو ته زنګ وهي، برښنالیک یا لیکلي پیغامونه استوي او وایي چې هغوی د حکومت کسان دي.
- دولتي مهر په دې معنا نه دی چې دا وېب سایټ به رسمي وي. په پته کې وګورئ چې .gov شته که نه.
- هېڅکله د متحده ایالاتو د دولت د کډوالۍ د فورمونو په بدل کې پیسې ورنکړئ. هغه وړیا دي.
- که تاسو فکر کوئ چې کوم چا ستاسو هویت غلا کړی دی، د مرستې ترلاسه کولو لپاره **IdentityTheft.gov** ته مراجعه وکړئ.

د درغلیو په اړه د فدرال سوداګریز کمیسیون ته د

**ReportFraud.ftc.gov**له لارې راپور ورکړئ

یا **877-382-4357** شمېرې ته زنګ ووهئ او د نورو ژبو لپاره د 3

تنۍ کېکاږئ، وروسته د لا زیاتو ژبو لپاره د 0 تنۍ کېکاږئ.

## ولې د درغلۍ راپور ورکړو؟

ستاسو راپور د هغو خلکو په خوندي کولو کې مرسته کوي چې تاسو پرې پام کوئ. دا له FTC سره مرسته کوي چې د دوکه بازانو مخه ونیسي او نور خلک له دوکه کېدو څخه وژغوري.

له درغلیو څخه د مخنیوي په اړه نور معلومات ولولئ:

**consumer.gov**

Federal Trade Commission
consumer.gov
2022 اګست
August 2022